څوک چې په الله او د آخرت په ورځ ایمان لري، نو هغه دې یا د خیر وینا وکړي او یا دې چوپ پاتې شي

له ابوهریره رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: «څوک چې په الله او د آخرت په ورځ ایمان لري، نو هغه دې یا د خیر وینا وکړي او یا دې چوپ پاتې شي، او څوک چې په الله او د آخرت په ورځ ایمان لري، نو هغه دې د خپل ګاونډي درناوی وکړي، او څوک چې په الله او د آخرت په ورځ ایمان لري نو هغه دې د خپل میلمه پالنه وکړي».

[صحیح دی] [متفق علیه دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: هغه بنده چې په الله او د آخرت پر هغې ورځې ایمان لري چې هغې ته به ورګرځي او په هغې کې به د عملونو بدله ورکړل کیږي، نو هغه لره به یې ایمان دې خویونو ته هڅوي: لومړی: ښه وینا: د الله تعالی له حمد او ثنا ویلو څخه، په نیکۍ امر کول، له بدیو څخه منع کول او د خلکو تر منځ روغه کول، که چېرته یې داسې ونه کړل؛ نو غلی دې پاتې شي، له اذیته دې لاس واخلي او د خپلې ژبې ساتنه دې وکړي. دویم: د ګاونډي عزت کول: له هغه سره ښه کول او ضرر ورته نه رسول. دریم: ستا د لیدو لپاره د راغلو میلمنو عزت کول: په ښایسته خبرو، خوږو ورکولو او داسې نورو - کارونو - سره.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/5437